مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

ورځپاڼه
هیواد

شنبه | ۲۵ / محرم الحرا م / ۱۴۴۸ هـ ق | ۲۰ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/11 م | خصوصي ګڼه: ۸۲ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۳ مه | دوره: اتمه

له نږدې ۵۰ زره کډوالو کورنیو سره د ۱۸۱ میلیونه افغانیو په ارزښت مرستې شوې

د کډوالـو او راســتنېدونکو چارو وزارت خبـر ورکـړی، چــې تېره میاشــت په ۲۳ ولایتونـو کې له ۴۵ زره او ۵۵۰ بې‌ځایه شـویو، راستنو شـویو او اړمنو کورنیو سره د ۱۸۱ میلیونـه، ۳۴۳ زره او ۴۲۲ افغانیو په ارزښت نغدي، خوراکي، روغتیایي، د جامو او نورو لومړنیو اړتیاوو مرستې شوې دي.

یـاد وزارت د یــوې خبرپاڼــې په خپرولو ســره ویلي، دا مرســتې د دولتـي او خیریـه بنســټونو په همکارۍ شــوې، چې موخه یې د کډوالو او اړمنــو کورنیو د لومړنیو اړتیاوو پوره کول او د ژوند د شرایطو ښه کول دي. د مســؤلینو په وینا، یادې مرســتې په کابل، دایکندي، ننګرهــار، لغمــان، نورســتان، کنړ، خوســت، لوګــر، کندهار، هلمنــد، زابــل، ارزګان، هرات، فــراه، بادغیــس، نیمــرزو، غور، بلخ، بغلان، ســرپل، ســمنګان، کندز او تخار ولایتونو کې ترسـره شوې دي.

د جبل‌السراج د سمنټو د دویمې سترې کارخونې د جوړېدو عملي چارې پیل شوې

د جبل‌الســراج د ســیمنټو دویمــې کارخونــې ډبــره د اســلامي امارت د ریاســت الــوزراء مرســتیالانو او نورو مشــرانو له لوري کېښودل شــوه. دغه کارخونه به د ۳ کلونو په موده، د شاوخوا ۹۰ میلیونه ډالرو په لګښت بشپړه شي، چې زرګونه کسانو ته به پکې د کار کولو زمینه برابره شي. مسؤلین وايي، چې دغه کارخونه به په ۲۴ ســاعتونو کې د ۵ زره ټنه سیمنټو تولید ظرفیت ولري، چې ور سره به د سیمنټو بیې راښکته او هېواد به د ځان‌بسیاینې خواته یو بل ګام نور هم نږدې شي.

د ریاســت الوزراء اقتصادي مرســتیال مــلا عبدالغني برادر پــه دې اړه جوړې شــوې غونډې ته وویلې، چې دا یوازې د یوې کارخونې بنســټ نه دی، بلکې د افغانســتان د صنعتي ودې، اقتصادي خپلواکۍ او د راتلونکي ...

۳مخ

د صنعت او سوداګرۍ وزارت د اوراسیا بازارونو ته د صادراتو د پراختیا لپاره اسانتیاوې برابروي

د صنعت او ســوداګرۍ وزیر د هغو ســوداګرو ســره په لیدنــه کې چې له افغانســتانه د اوراســیا اقتصادي اتحادیــې غــړو هېوادونو تــه توکي جوړولو جدي کار کوي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت پر خپله ایکس‌پاڼه لیکلــي، چــې د دغــه وزارت وزیر نورالدین عزیزي د اوراسیا اقتصادي

صــادروي، ویلي چې دغــه وزارت پــه کابــل او د هېواد پــه زونونو کې د صادراتــو د پروســس مرکزونو پر اتحادیې غړو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتي توکو له صادروونکو سره ولیدل. سرچینې لیکلي ...

۳مخ

د هېواد لرو پرتو سیمو ته مخابراتي خدمتونه پراخېږي

د مخابراتــو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزیر د مخابراتي شــرکتونو له استازو سره په لیدنه کې د مخابراتي سکټور د وضعیت، د خدماتــو د کیفیت، د بنسټیزو تأسیساتو د پیاوړتیا او لرو پرتو سیمو ته د شــبکو د پوښښ د پراختیا پــه اړه خبرې کړې دي. د دغه وزارت ویانــد عنایت‌الله الکــوزي پر خپله ایکس‌پاڼه لیکلي، چــې د مخابراتو او معلوماتــي ټکنالوجــۍ وزیر ملا عبدالاحد فضلي پــه دې غونډه کې د مخابراتي ســکټور پر اهمیت او په افغانســتان کې د مخابراتي خدماتو پر اوسني وضعیت معلومات وړاندې کړل. ســرچینه زیاتــوي، فضلي په دغه ســکټور کې شته ســتونزو ته په اشاري ســره، په ځانګړي ډول په لرو پرتو سیمو کې د مخابراتي خدماتو د کیفیت پر ښه‌والي ټینګار وکړ او ویې ویل، چې وزارت به د دغه ســکټور د لا ودې او پراختیا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي ...

۳مخ

د ټولګټو وزیر:

له ترکمنستان سره اقتصادي او ټرانسپورټي اړیکې د لا پراختیا په حال کې دي

د ټولګټــو وزیــر پــه کابــل کې د ترکمنســتان له سفیر ســره په لیدنه کې د ګډو اقتصادي، ســوداګریزو او ټرانسپورټي همکاریو د پراختیا او یو شمېر بنسټیزو پروژو په اړه خبرې کــړي دي. د ټولګټــو وزارت خبرپاڼه کې راغلي، چې د دغه وزارت وزیر ملا محمدعیسی ثاني په کابل کې د ترکمنستان له سفیر خواجه عوضوف سره وکتل. سرچینه زیاتوي، چې په دې لیدنه کې دواړو لورو د ګډو اقتصادي، سوداګریزو او ټرانسپورټي همکاریــو او یــو شــمېر مهمــو زېربنایي پروژو په اړه خبرې وکړې. خبرپاڼه کې راغلي ...

۳مخ

سرلیکنه

امن افغانستان؛ د پانګونې لپاره مناسب فرصت

د هېوادونو اقتصادي پرمختګ هغه وخت عملي بڼه خپلوي چې نړیوال بازارونه، پانګونه، صنعت او ســوداګریزې اړیکې قوي شي. هره نوې اقتصادي هوکړه، هر نړیوال نندارتون او هره نوې ســوداګریزه اړیکه د یوه هېواد لپاره د تولید، صادراتو، پانګونې او کارموندنې نوې دروازې پرانیزي. د افغانستان او چین ترمنځ وروستۍ هوکړه هم د همدې بدلون یوه مهمه بېلګه ده او څرګندوي چې افغانستان ورځ تر بلې د سیمې په اقتصادي معادلو کې خپل ځای پیاوړی کوي.

د افغانستان د ســوداګرۍ او پانګونې خونې او د چین د شینګداو نړیوال نندارتون مرکز د سوداګریزو اړیکو د پراختیا، ګډو نندارتونونو او سوداګریزو غونډو د جوړېدو لپاره د همکارۍ هوکړه‌لیک لاســلیک کړی دی. د دې هوکړې له مخې به د چین د صنعتي ماشین‌آلاتو جوړونکي او تولیدوونکي د امام ابوحنیفه په پنځم ملي او نړیوال نندارتون کې ګډون وکړي او خپل نوي ماشــین‌آلات، تخنیکي وسایل او تولیدي تجهیزات به افغان سوداګرو او صنعتکارانو ته وړاندې کړي. دا د ټکنالوژۍ، صنعتي تجربو او اقتصادي همکاریو د پراخېدو لپاره یو مهم فرصت دی.

الحمدلله، نن افغانستان د سراسري امنیت له برکته د سوداګرۍ او پانګونې لپاره د بــاور وړ چاپېریال موندلی دی. پخوا ناامني د ډېرو کورنیو او بهرنیو پانګوالو لپاره ستره اندېښنه وه؛ خو نن شــرایط بدل شوي دي. سوداګر، صنعتکاران او پانګوال کولای شــي په ډاډه زړه خپل فعالیتونه پراخ کړي، ځکــه امنیت د هر اقتصادي پرمختګ لومړنی شــرط دی. همدا لامل دی چې د ســیمې د بېلابېلو هېوادونو سوداګریز پلاوي، شــرکتونه او پانګوال افغانستان ته راځي او د ګډ کار لپاره نوې لارې لټوي.

د چین په څېر له ستر اقتصادي ځواک سره د همکاریو پراخېدل د افغانستان لپاره ســتر اقتصادي ارزښت لري. چین د نړۍ له مخکښو صنعتي هېوادونو څخه دی او د پرمختللو ماشین‌آلاتو، تولیدي ټکنالوژۍ او صنعتي تجربو لېږد کولی شي د افغانستان د تولیدي سکټور د پیاوړتیا لامل شي. هر پرمختللی ماشین چې هېواد ته راځي، د تولید کچه لوړوي، د فابریکو ظرفیت زیاتوي، د محصول کیفیت ښه کوي او د سلګونو کســانو لپاره د کار زمینه برابروي. همدا لامل دی چې دا ډول اقتصادي اړیکې د اوږدمهاله پرمختګ لپاره ځانګړې اهمیت لري.

د افغانستان اســلامي امارت په وروستیو کلونو کې اقتصادي پراختیا ته ځانګړې پاملرنه کړې ده. د سوداګرۍ د اسانتیاوو رامنځته کول، د پانګوالو د ستونزو حل، د ملي او نړیوالو نندارتونونو جوړول، د صنعتي پارکونو ملاتړ او له بېلابېلو هېوادونو سره د اقتصادي همکاریو پراخول د همدې تګلارې برخه ده. د هېواد د جغرافیایي موقعیت له امله افغانســتان د سیمې د سوداګرۍ په یوه مهم دهلېز د بدلېدو وړتیا لري او دا وړتیا اوس په عملي ګامونو بدلېږي.

له چین ســره د همکاریو ترڅنګ، افغانستان له هند او د سیمې له نورو هېوادونو سره هم خپلې اقتصادي اړیکې پراخې کړې دي. د سوداګرۍ، ټرانزېټ او پانګونې په برخه کې دا اړیکې د افغانســتان لپاره نوي بازارونــه او نوې اقتصادي دروازې پرانیزي. هــر څومره چې اقتصادي اړیکې پراخېږي، همغومره د هېواد صادرات، تولیــد او د خلکو د کار فرصتونــه هم زیاتېږي. دا متوازن اقتصادي سیاســت د افغانستان ملي ګټو ته زمینه برابروي او د هېواد اقتصادي دریځ لا پیاوړی کوي.

افغانســتان د اقتصادي ځان‌بســیا پر لور په ثابتو ګامونو روان دی. ان‌شــاءالله د صنعت، ســوداګرۍ او پانګونې دا بهیر به نور هم پراخ شــي او د نړۍ له بېلابېلو هېوادونو سره به اقتصادي همکارۍ لا زیاتې شي. د افغانستان پرمختګ، سراسري امنیت او د نړیوالو اقتصادي اړیکو پراخېدل هغه واقعیتونه دي چې ورځ تر بلې نور هم څرګندېږي. د افغان ولس اراده پیاوړې ده او د خدای په مرسته به هېواد د تولید، صنعت، پانګونې او اقتصادي ځواکمنتیا په برخه کې لا ستر پرمختګونه وکړي.

د فرهنګي میراث درناوی؛

لغمان کې د استاد ګل پاچا الفت په یاد علمي غونډه جوړه شوه

د پښتو معاصر ادب مخکښ شاعر، لیکوال او مفکر استاد ګل پاچا الفت د مقبرې د بیارغولو چارې بشــپړې او فرهنګي غونډه جوړه شــوه. د یاد ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د معلوماتو له مخې، د استاد الفت د



او د هغــه علمي، ادبــي او فرهنګي خدمتونو د درناوي په موخه یوه علمي مقبرې د بیارغولو چارې د یاد ریاست په همغږۍ د دبستان فرهنګي ...

۳مخ

د افغانستان او چین ترمنځ د سوداګریزو همکاریو نوی هوکړه‌لیک لاسلیک شوی

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې ویلي، چــې د چین د شــینګدائو نړیوال نندارتون له مرکز ســره یې د ســوداګریزو همکاریو د پراختیا، د نندارتونونو جوړولو او ګــډو غونډو ترســره کولو پــه موخه د همکارۍ هوکړه‌لیک لاســلیک کړی دی. یادې خونــې په یوه خبرپاڼــه کې ویلي، چې دغه هوکړه‌لیک د تولیدي ماشینونو د نړیوال نندارتون په څنډه کې د افغانســتان د ســوداګرۍ او پانګونې خونې د یو شمېر مسؤلینو او افغان سوداګرو په حضور کې لاسلیک شوی دی. د هوکړه‌لیک له مخې، چیني تولیدوونکي او سوداګر، په ځانګړي ډول د صنعتي ماشــینونو جوړوونکي به د امــام ابوحنیفه په پنځم ملــي او نړیوال نندارتون کې ګــډون وکړي او خپلې نوي ماشین‌الات او تجهیزات به د بازارموندنې، د خپلو تولیداتو د معرفۍ او په افغانســتان کې د اقتصادي همکاریو د پراختیا په موخه نندارې ته وړاندې کړي.

د افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې خونې زیاته کړې چې دغه هوکړه‌لیک د افغانستان او چین د خصوصي ســکټورونو ترمنځ د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا او د همکاریو د لا ډېرو فرصتونو د رامنځته کولو په موخه لاسلیک شوی دی.

غزني کې د (سلطان محمود غزنوي) نندارتون پرانیستل شو

غزني کــې د صنعت او ســوداګرۍ وزارت لــه لــوري د درېیــو ورځو لپاره د «سلطان محمود غزنوي» دویم نندارتون پرانیســتل شــو. د دغه نندارتون پــه ۶۰ غرفو کې د غزني ســربېره، د کابل، کندهــار، هرات او ځینــو نــورو څېرمه ولایتونــو صنعتکارانــو خپل صنعتي او کرنیز تولیدات نندارې ته ایښــي دي. د غزني د والي مرستیال، سردار محمد مدني پــه دې اړه وویل: «د دې نندارتون ګټې او موخې زیاتې دي. هغه توکي چې په کور دننه تولیدېږي، له هغو به تولیدي شرکتونه ...

۳مخ

زابل کې د مېزاني ولسوالۍ لپاره نوې اداري ودانۍ جوړه شوه

د زابل د مېزاني ولسوالۍ لپاره نوې اداري ودانۍ د ۵ میلیونــه افغانیو په لګښــت جــوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. زابل د مېزانې ولسوال مولوي عــزت الله حاجي امیر باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چــې دغه ودانۍ په اساســي او معیاري ډول د ۱۰ میاشــتو په موده کې جوړه شوې ده.

د نومــوړي پــه وینــا، په دغه ودانۍ کــې اته اداري خونــې، پخلنځــی او نور اړین ملحقات جوړ شوي، چې ټولټال ۵ میلیونه افغانۍ لګښــت پرې راغلی دی. ده زیاته کړه: د نوې ودانۍ په ګټې اخیستنې سره ...

۲مخ

د امام ابو یوسف رحمه الله پېژندنه او علمي او سیاسي خدمتونه

لیکوال: محمد بهادر حنیف

امام ابو یوسف رحمه الله (۱۱۳هـ-۱۸۲هـ) د اسلام د فقهي تاریخ له سترو علماوو څخه دی. بشپړ نوم یې یعقوب بن ابراهیم الانصاري دی. هغه د کوفې اوسېدونکی و او د امام ابو حنیفه رحمه الله له مشهورو شاګردانو څخه ګڼل کېږي. وروسته یې د حنفي فقهې په خپرولو او منظم کولو کې خورا مهم رول ادا کړ، تر دې چې د حنفي مکتب لومړی ستر نظامي فقیه بلل کېږي.

۱. علمي ژوند او زده کړه

امام ابو یوسف په لومړي سر کې د حدیثو او فقهې زده کړه کوله. هغه د وخت له سترو محدثینو او فقیهانو څخه زده کړې وکړې؛ خو تر ټولو زیات یې د امام ابو حنیفه رحمه الله شاګردي وکړه.

د امام ابو حنیفه رحمه الله څخه یې ژوره فقهه زده کړه.

د امام محمد بن حسن الشیباني سره یې هم علمي بحثونه کول

د حدیثو روایت یې له ډېرو محدثینو څخه کړی دی.

امام ابو یوسف خپله وینا کې ویلي چې: "ما د فقهې ډېر علم له امام ابو حنیفه څخه زده کړی دی."

۲. د قضاء (قاضي القضات) مقام

د عباسي خلافت په زمانه کې، خلیفه هارون الرشید هغه د قاضي القضات (ستر قاضي) په توګه وټاکه. دا لومړی ځل و چې په اسلامي تاریخ کې دا منصب دومره منظم شو.

د قاضي القضات په توګه کارونه:

د قضا سیستم یې منظم کړ، د قاضیانو لپاره اصول او معیارونه جوړ کړل، د عدالت په پلي کولو کې یې سخت اصلاحات راوستل او د رشوت او بې‌عدالتۍ پر ضد یې مبارزه وکړه.

۳. علمي خدمتونه

امام ابو یوسف د حنفي فقهې په پراختیا کې مهم رول درلود:

مهم علمي خدمتونه:

د فقهې اصول یې منظم کړل، د امام ابو حنیفه نظریات یې تدوین او نشر کړل، د اسلامي اقتصاد او مالیاتو په اړه یې نظریات وړاندې کړل او د حکومت او شریعت ترمنځ اړیکه یې واضح کړه.

۴. مهم کتابونه

د هغه له مهمو آثارو څخه:

کتاب الخراج (تر ټولو مشهور اثر)

د اسلامي مالیاتو، بیت المال او اقتصادي نظام په اړه دی.

کتاب الآثار

د حدیثونو او فقهي روایتونو مجموعه او نور فقهي رسائل او فتوایي لیکنې.

۵. سیاسي او اداري خدمتونه

امام ابو یوسف یوازې عالم نه و، بلکې یو لوی اداري اصلاح غوښتونکی هم وه. د اسلامي دولت مالي نظام یې تنظیم کړ، د بیت المال عواید یې قانوني کړل، د خلکو حقوق یې د حکومت په وړاندې واضح کړل، د عدل او انصاف لپاره یې قوي اصول جوړ کړل.

هغه هڅه کوله چې حکومت د شریعت تابع وي، نه دا چې شریعت د سیاست تابع شي.

۶. اخلاق او شخصیت

ډېر متواضع او نرم خویه عالم وه،

د حق وینا کې نه وېرېدونکی، له ظلم سره یې سخت مخالفت درلود او د علم او عدالت لپاره وقف ژوند یې درلود.

۷. وفات

امام ابو یوسف رحمه الله په ۱۸۲هـ کال کې د بغداد په ښار کې وفات شو. د هغه وفات د اسلامي فقهي نړۍ لپاره ستره ضایعه وه.

لنډه پایله

امام ابو یوسف رحمه الله د حنفي فقهې ستر امام، د قضا نظام بنسټ ایښودونکی او د اسلامي اقتصاد لومړنی منظم مفکر په توګه پېژندل کېږي.

د هغه علمي او اداري کارونه تر نن پورې په اسلامي فقهي نظامونو کې اغېز لري.

که د لمانځه دومره پایند وای، نو نن به ولې وای

مولوي خالد تسل

دوه داسې پېښې در سره شریکوم، چې ما نن لیدلې دي.

یوه مې د خپل ځان او بله مې د کشر ورور اړوند ده.

سهار مې تلاوت کولو چې یو آیت په سورة یوسف کې مخ ته راغی. پکې د یعقوب علیه السلام بچیانو ته د یو ځای په جمع وارې سره په یوه دروازه باندې مصر ته د داخلېدلو څخه د منع خبره کوي. کله چې مې دغه آیت تلاوت کړ، ډېر خوند یې راکړ او د همدغې موضوع اړوند یوه مقاله راسره په کتابتون پرته وه، په هغه پسې د کور څخه کوټې ته راووتلم، د لږ څه لټون وروسته مې ومونده او راغلم موضوع مو هر اړخیز د دلایلو سره مطالعه او تر نظر تېره کړه، نور هم خوښ او خوشحال شوم. د دغه جریان وروسته تلم وظیفې ته، د ورور سره موټر کې سپور شوم.

نورو ورونو هم راسره راپورته شول؛ هغوی مدرسې ته تلل.

خلاصه خبره دا پر ما د حاضرۍ ناوخته وه، نو ژر کوه-ژر کوه!

هله او هله نعرې وې، تر دې پورې چې ځای ته را ورسېدلم، د حاضرۍ وخت تېر شوی وه.

کې مې یو نا پامه ور ته فکر شو، چې سره و به ښوریده، ساعت ته به یې وکتل، بیا به ویده شو. هغه نو تر ما لا لټ دی، همېشه مې ور سره دغه خبره وي، چې عبد الغني؛ د سهار جماعته ته راځه!

خو تر اوسه لا په هماغه حال پاتې دی.

خدای ج دې توفیق ور کړي،

> **دلته استشهاد د کور څخه دندنې ته د راتګ په مهال طلب او تلوار دی، همدغه تلوار چې په جماعتونو کې، بیا په ځانګړي ډول د سهار په جماعت کې راسره وای، نو نن به ولې وای؟ الله ج ته مو ستا په لار کې همداسې طالب وګرځوه.**

دلته استشهاد د کور څخه دندنې ته د راتګ په مهال طلب او تلوار دی، همدغه تلوار چې په جماعتونو کې، بیا په ځانګړي ډول د سهار په جماعت کې راسره وای، نو نن به ولې وای؟

الله ج ته مو ستا په لار کې همداسې طالب وګرځوه.

همدا نن سهار مې د سهار لمونځ تر اداینې وروسته کشر ورور د مدرسې تر وخته پورې ویده شو. د مطالعې په جریان چې په جماعتونو سره لمونځ ګوزاره، نیک، صالح او کامل مسلمان ترې جوړ شي.

آمین یارب العالمین!

له دغو دوه حالتو نه به درک درته لګېدلی وي، چې بنده دومره ځیرک د آخروي کارونو په لټه کې واوسي، څومره چې په دنیا کې د دنیوي کارونو په لټه کې ځیرک اوسي.

باور وکه، همدا انسان به ولې وي.صلاح په هیله.

زابل کې د مېزاني ولسوالۍ ...

به د ولسوالۍ کارکوونکو لپاره مناسب کاري چاپېریال برابر، د اداري خدمتونو کیفیت به ښه او د چارو چټکتیا او اغېزمنتیا کچه به لوړه شي.

نوموړي همدارنګه د مېزاني ولسوالۍ په کچه د چکدېمونو، سړکونو، ښوونځیو، مدرسو او نورو رغنیزو پروژو د پلي کېدو په برخه کې د لا زیاتې پاملرنې او همکارۍ غوښتنه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې د زابل والي او ورسره مل پلاوي د مېزاني ولسوالۍ له یو شمېر روانو رغنیزو او خدماتي پروژو څخه هم لیدنه وکړه او د چارو د چټکتیا او کیفیت د لا ښه والي په موخه یې اړوندو مسوولینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

جرمني غواړي هغه ...

د ایستلو بهیر درولی و؛ خو د ۲۰۲۴ کال له مني راهیسې یې دغه بهیر بېرته پیل کړی دی. هغه مهال ایستلو کې یوازې هغه کسان شامل وو، چې جرمي محکومیت یې درلود یا امنیتي ګواښ ګڼل کېدل.

سرچینه زیاتوي، چې د جرمني اوسني حکومت په خپل ایتلافي تړون کې هم د دې تګلارې د پراخولو او د هغو افغانانو د ایستلو یادونه کړې چې جرمي مخینه نه لري او اوس داسې ښکاري چې د دغه پلان د عملي کېدو چمتووالی روان دی.

یادې ورځپاڼې زیاته کړې، چې د جرمني کورنیو چارو وزارت تر اوسه د اېستلو په تمه د کسانو د شمېر او په افغانستان کې له واکمنو چارواکو سره د همغږۍ د څرنګوالي په اړه جزییات نه دي خپاره کړي او د پارلمان د استازو د پوښتنو په ځواب کې یې د «دولت د ګټو» له امله د معلوماتو یوه برخه محرمه اعلان کړې ده.

د راپور له مخې، د روان میلادي کال له پیله راهیسې ۱۰ افغان وګړي په انفرادي ډول او ۷۷ نور د چارټر الوتنو له لارې افغانستان ته اېستل شوي دي. همدارنګه، وروستۍ چارټر الوتنه ، چې د جون میاشتې په نیمایي کې ترسره شوه، د جرمني د فدرالي پولیسو د ۹۲ غړو په ګډون او د څه باندې ۳۵۰ زره یورو په لګښت ترسره شوې ده.

د افغانستان او هند ترمنځ ...

او مالدارۍ په برخه کې د پراخو ظرفیتونو په یادولو سره وویل، افغانستان چمتو دی چې د هند اړتیا وړ کرنیز او حیواني محصولات برابر او هغه هېواد ته یې صادر کړي.» بل لور ته، د هند د کرنې او بزګرانو د هوساینې وزیر شیوراج سینګ چوهان ویلي، چې هند او افغانستان تاریخي او پخوانۍ اړیکې لري او د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنې په برخه کې د همکاریو پراخ فرصتونه شته.

ده زیاته کړه، چې هند چمتو دی بېلابېلو برخو کې خپلې تجربې او لاسته راوړنې له افغانستان سره شریکې کړي. د هند د کرنې او بزګرانو د هوساینې وزیر، شیوراج سینګ چوهان ویلي: « د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو لپاره ډېرې زمینې شته. افغانستان غواړي د کرنیزو څېړنو او کرنې په برخه کې پرمختګ وکړي. هند د کرنې په برخه کې د بېلابېلو دولونو اصلاح شوي تخمونه رامنځته کړي او د کرنې نوې طریقې یې دود کړې دي. همدارنګه هند غواړي د اوبولګولو د اغېزناکې ګټې او د اوبیزو سرچینو د مدیریت په برخه کې هم له افغانستان سره همکاري وکړي.» اقتصادي شنونکي شمس‌الرحمان احمدزي د هند سره د سوداګریزو او اقتصادي اړیکو د اهمیت په اړه وایي: «که د کرنې وزیر هند ته سفر کړی، باید دا سفر د صادراتو په برخه کې د همکاریو د پراختیا لامل هم شي. هند کولای شي د اصلاح شویو تخمونو په برابرولو، د بزګرانو په ملاتړ او د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د صادراتو لپاره د اسانتیاوو په رامنځته کولو سره د دې سکټور په وده کې مهم رول ولوبوي.»

د زړه او رواني ناروغانو ...

ناروغان تر درملنې لاندې لري او څه د پاسه ۱۵۰۰ نورو ناروغانو ته په خپلو کورونو کې روغتیایي خدمتونه او دوامداره درمل وړاندې کوي. دغه‌راز ښاغلي دلاور له ازبکستاني سوداګرو غوښتي، چې د زړه او رواني ناروغانو لپاره د اړتیا وړ درملو د برابرولو او د روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا په برخه کې له افغاني سرې میاشتې سره همکاري وکړي.

له بلې خوا ازبکستاني سوداګرو د افغاني سرې میاشتې د بشري او روغتیایي فعالیتونو ستاینه کړې او ډاډ یې ورکړی، چې د یادو ناروغانو لپاره د اړتیا وړ درملو د برابرولو په برخه کې به له دې ادارې سره اړینه همکاري وکړي. دغه‌راز په پای کې دواړو لوریو د روغتیایي همکاریو د پراختیا، د درملو د تامین او د اړمنو ناروغانو د درملنې په موخه د اسانتیاوو د پیاوړتیا لپاره د ګډو همکاریو پر دوام ټینګار کړی.

پکتیکا کې یوه سوداګر ...

۲۸ افغانیو ته راټیټه شوې ده. د پکتیکا د یوې تولیدي کارخونې استازي، ابراهیم هاشمي وایي: «موږ له کابله یوه کارخونه دلته راولېږدوله، که څه هم لس کاله مخکې هم دا کارخونه دلته وه؛ خو د برېښنا د تولید لپاره مو د تېلو لګښت نه شوای پوره کولی. که برېښنا نه وي، د ډیزلي برېښنا لګښت هم نه شو پوره کولی، ځکه اوس ډیزل هم ګران دي.» د پکتیکا اوسېدونکي، عیسی خان وایي: « په ژوند کې ټولې چارې په برېښنا پورې تړلې دي. که صنعتي کارخونې وي، دوکانداري وي او که د ژوند نورې برخې، که برېښنا برابره شي، ټول کارونه ورسره سمبېږي.»

د پکتیکا بل اوسېدونکي، هارون وایي: «مخکې برېښنا وه؛ خو ډېره کمه او بیه یې هم ډېره لوړه وه. د یوه کیلو واټ برېښنا بیه مخکې ۶۰ افغانۍ وه؛ خو اوس چې دا برېښنا تولید شوې، ۲۸ افغانیو ته راټیټه شوې ده.»

پکتیکا یو له هغو ولایتونو دی چې له وارداتي برېښنا بې‌برخې دی او دا مهال د دې ولایت د مرکز ښارنې لپاره د اړتیا وړ برېښنا دوه خصوصي شرکتونه برابروي.

کرېکټ؛ افغان اېلېون ...

لپاره مهم ګام ګڼل کېږي.

عبدالرحیمزي زیاته کړه: «د افغانستان د کرېکټ بورډ به د ازبکستان د کرېکټ فدراسیون د پرمختګ لپاره خپله قوه استعمالوي؛ یعنې موږ چې کوم تخنیکي کسان لرو، په تخنیکي برخه کې به هغوی ته روزنه ورکوو، که د هغوی کوچان وي، که امپایران، شورا، ټرېنران او یا هم لوبغاړي وي، کولی شي زموږ د های پرفارمنس سنټر په کمپونو کې ګډون وکړي.» بلخوا، یو شمېر ننداره‌چیانو د ازبکستان ملي لوبډلې راتګ د افغانستان د کوربتوب وړتیا لپاره مهم وباله.

یوه ننداره‌چي رفیق‌الله وایي: «د ازبکستان لوبډلې راتګ ډېر د خوښۍ زېری دی؛ ځکه په راتلونکي کې به نورې لوبډلې هم دلته لوبو ته زړه ښه کړي. ان‌شاءالله وروسته به لویې لوبډلې هم افغانستان ته راشي او موږ به یې کوربتوب وکړو.» د افغانستان کرېکټ بورډ مسؤلین وایي، د یوې بهرنۍ ملي لوبډلې حضور ښیي ، چې افغانستان د امنیت له پلوه د نورو نړیوالو لوبډلو د کوربتوب لپاره چمتو دی.

د ایران پخوانی مذهبي مشر ...

درې نور زامن، مصطفی، میثم او مسعود خامنه‌يي د جنازې د لمانځه په مراسمو کې حاضر وو.

د رسنیو د راپورونو له مخې، د خښولو له مراسمو مخکې د هغه مشر زوی مصطفی خامنه‌يي د خپل پلار د جنازې لمونځ ادا کړی و.

علي خامنه‌يي څلور میاشتې مخکې پر ایران د امریکا او اسرائیل د بریدونو په لومړۍ ورځ ژوند له لاسه ورکړی و.

امریکا او ایران یو ځل بیا ...

ترسره شوي او خبرداری یې ورکړی چې که دغه ډول بریدونه تکرار شي، د امریکا غبرګون به لا سخت وي.

په ورته مهال، ایراني رسنیو راپور ورکړی چې د امریکا بریدونو کې د بندرعباس، چابهار او کنارک په ګډون د ایران د سوېلي سواحلو ځینې سیمې په نښه شوې او ځینو سیمو کې برېښنا هم پرې شوې ده.

دغو تازه بدلونونو د جګړې د پراخېدو او د هرمز تنګي د امنیت په اړه چې د نړۍ د نفتو د لېږد یوه له مهمو لارو ده، اندېښنې زیاتې کړې دي. د دغو بریدونو له امله د نفتو بیې هم شاوخوا یو سلنه لوړې شوې دي.

افغان او هندي چارواکو ...

د ښاغلي تکل په وینا، په دې ناسته کې د دوه اړخیزو سیاسي او اقتصادي همکاریو په اړه کې د ویزو د صدور او د سوداګرۍ پر ستونزو او د صادراتو او وارداتو پیاوړتیا باندې خبرې شوې دي.

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ATRA

اداره تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان اترا از تمام داوطلبان واجد شـرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (وسایل برقی و مراقبت مورد ضرورت اداره اترا و دارای شماره داوطلبی (ATRA-NCB-G2 -1405) اشـتراک نموده و شـرطنامه مربوطـه را از آمریت قرار داد ها ریاست تدارکات ذریعه فلش و یا ویب سـایت ایـن اداره (www.atra.gov.af) بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شـرطنامه و طبق قانـون و طرزالعمل تدارکات بطور سربسته به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱۰ به روز پنجشـنبه سـاعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهـر آمریت قـرار داد ها ریاسـت تدارکات واقـع منزل ۱۳ مقیم تعمیـر ۱۸ منزله وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی تسلیم نمایند آفرهای ناوقت رسـیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد. ۳۴۱۷

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ATRA

اداره تنظیم خدمات مخابراتی افغانستان اترا از تمام داوطلبان واجد شـرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (STM+۱ انترنیت مورد ضرورت اداره اترا و دارای شماره داوطلبی (ATRA-NCB-NCS1- 1405)
اشتراک نموده و شرطنامه مربوطه را از آمریت قرار داد ها ریاسـت تدارکات ذریعه فلش و یا ویب سایت این اداره (www.atra.gov.af) بدست آورده آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شـرطنامه و طبق قانـون و طرزالعمل تدارکات بطور سربسته به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۱ به روز پنجشنبه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر آمریت قرار داد ها ریاست تدارکات واقع منزل ۱۳ مقیم تعمیـر ۱۸ منزله وزارت مخابرات و تکنالـوژی معلوماتی تسـلیم نمایند آفرهای ناوقت رسـیده و انترنیتی قابـل پذیرش نمی باشد. ۳۴۱۶

افغان اعلانات

اطلاعیه لیلام

موسسـه داکار ۸ عراده موتور سایکل خویش را که اسـتهلاک گردیده بطـور لیلام بفروش میرساند. تاریخ برگزاری لیلام به روز دو شنبه ۲۹/سـرطان /۱۴۰۵ مطابق ۲۰۲۶/۷/۲۰ و محل برگزاری لیلام دفتـر مرکزی داکار واقع سرک ۱۲ قلعه فتح الله وزیر آباد می باشد.
اشـتراک علاقمنـدان آزاد می باشـد و پول تضمین ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقدا اخذ می گردد.
بـرای معلومـات مزید بـه شـماره تیلیفون ۰۷۹۷۰۱۱۰۰۵ در تماس شوید. ۳۴۰۷

اطلاعیه لیلام

موسسـه کمک های خیریـه ای ای آر جاپان (AAR Japan) در نظر دارد ۲۵ قلم جنس داغمـه خویـش را از طریق پروسـه لیلام به فروش برساند.
اشخاص و شرکت های که خواهش خریداری اجناس داغمه را داشـته باشند به روز دوشنبه تاریخ ۱۴۰۵/۴/۲۲ ساعت ۹ بجه قبل از ظهر به دفتر ذکر شده واقع کلوله پشته ناحیه چهارم روبروی شـفاخانه فرحت، پهلـوی کلینیک دندان سـهراب صدیقی مراجعه نماید، و قابل ذکر اسـت که ۱۵ فیصد پـول تضمین قبل از شروع داوطلبی نقدا آغاز می گردد. ۳۴۲۱

اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم محمد فرهاد اسیر بارکزی فرزند محمد رحیم بارکزی ولدیت شهسـوار خان بارکزی دارنـده تذکـره نمبـر (۱۰۴۱۲- ۰۲۰۰- ۱۳۹۸) مسـکونه اصلی ولایت کابل مالک امتیاز دواخانـه زیبا غفاری واقـع ناحیه اول ولایـت کابل عنوانـی معینیت غـذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است
اشـخاص موسسـات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشـر اعلان مطابق قانون و مقرره مهـر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد. ۳۴۲۹

موضوع: د درګیو کوخې ښخه تر پنج قلعه کوخې پوري کانګریت اچونه پروژې د قرارداد د داوطلبی اعلان

د کابل ولایت د قره باغ ولسـوالی ښاروالی له ټولو ورو او شـرایطو پوره کوونکو داوطلبانو ته بلنـه ورکوي چې د درګیو کوخې ښخه تر پنج قلعه کوخې پوري کانکریت اچونه پروژې کې ګډون وکړي غوښـتونکې کولای شـې چې د شرطنامې کاپې د (۱۰۰۰) زرو افغانیو په بدل کې تر لاسـه کړي او خپل آفرونه د شرطنامې د مندرجو شرایطو مطابق په مهر او ترلي ډول د اعلان له خپریدو وروسته تر (۲۱) تقویمي ورځو پورې د آفر پرانیستې غونډې ته وسپاري هغه افرونه چې نا وخته ورسیږي یا د انټرنیټ له لارې وراندې شي ، د منلو وړ نه دي.
د آفر پرانیسـتې غونډه بـه د اعلان له خپریدو (۲۱) ورځې وروسـته ، د کابـل ولایت مقام په تـالار کې ، چې د صدرات څلور لارې کې موقعیت لري تر سره شي . ۳۳۹۰

اطلاعیه تغیر مکان رهنمای معاملات

دفتر رهنمـای معاملات بصیر احمد احمدی دارنده جواز شـماره (۷۵۷۸) به اسم محترم بصیـر احمـد فرزنـد حاجی حسـین علی واقـع ناحیه ۱۳ موقعیـت دارد و میخواهد به ساحه چهار راهی شـهدا تپه امنیت ناحیه ۱۳ شاروالی کابل نقل مکان نماید . بناء مراتب به آگاهی شما رسانیده شد. ۳۴۰۴

موضوع: اعلان پروژه فلم های اکسری مورد ضرورت شفاخانه تدریسی میوند بابت سال مالی ۱۴۰۵:

ریاسـت شـفاخانه تدریسـی میوند از تمام داوطلبان واجد شـرایط دعوت مینماید تا در پروسـه داوطلبی باز؛ پروژه فلم های اکسری مـورد ضرورت شـفاخانه تدریسـی میوند، اشتراک نموده و نقل شرطنامه را از تاریخ نشر اعلان الی ۱۵ روز تقویمی از مدیریت عمومی تهیه و تدارکات این شفاخانه در اوقات رسمی بدست آورند. شـرطنامه متذکره را مطالعه و آفرخویش را مطابق شـرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون عقود و طرزالعمل تدارکات طور سربسـته ارایه نمایند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیریش نمی باشد.
جلسـه آفرگشـایی بـه روز تعیـن شـده منـدرج شـرطنامه سـاعت ۰۹:۳۰ قبـل از ظهر، در ریاسـت ایـن شـفاخانه برگزار میگردد.

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسـی تذکره تابعیت به اسـم نعیم فرزند محمد ظاهر ولدیت میرداد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۴۰۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ برچی به اسـم محمد نعیـم فرزند جان علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۴۰۹

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز شـرکت سیاحتی آریانا سنتر نمبر جواز ۵۹۱ واقع ناحیه سـوم به اسم سید مرتضی فرزند سید شاه مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۴۹۱

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه مکتوب گمرکی موتر سایکل هوندا به اسـم صفی الله فرزنـد عبدالعزیز مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۳۹۳

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی دکان ورکشاب موبایل به اسم ذبیح الله فرزند خان گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۴۲۷

اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر مربوط محترم محمدا گل فرزند امان گل رئیس قوم ځلوزی ولسوالی بگرامی ولایت کابـل مفقود گردیده از اعتبار سـاقط میباشد. ۳۴۲۸

اطلاعیه دعوت به داوطلبی

ریاست معادن ولایت کابل در نظر دارد به خاطر عقد قرار داد معادن مواد ساختمانی ساحات ذیل را به مدت ۲ سال به عقد قرار داد بدهد.

شمار	ولایت	ولسوالی	نام ساحه	نوعیت مواد	مساحت ساحه
۱	کابل	خاکجبار	تالوخیل	سرمه ریگ	۲۷۸۵۱،۶ مترمربع
۲	کابل	خاکجبار	قریه ملنگ	جغل خاکدار	۴۴۷۰۱،۷ متر مربع

تمام داوطلبان می توانند به خاطر اشتراک درخواستی های خود را از تاریخ ۲۲ /۱۴۴۸/۱ الی ۳ /۱۴۴۸/۲ به ریاست معادن ولایت کابل تحویل نمایند و فورمه داوطلبی را از این ریاست دریافت نمایند.
نوت : فیس اجازه نامه مبلغ (۱۵۰۰۰) پانزده هزار افغانی ، ضمانت محیط زیستی (۳۰۰۰۰) سی هزار افغانی در مقابل هر هکتار و ضمانت حسن اجراء اندازه (۱۵۰۰۰) پانزده هزار افغانی در مقابل هر هکتار مساحت می باشد. ۳۴۱۳

د جبل‌السراج د سمنټو ...

سـوکالۍ لپاره یو سـتر ګام دی. د نوموړي په وینا د سیمنټو تولید په زیاتولو سره له یوې خوا د وارداتو اړتیا کمېږي، د اسعارو وتلو مخه نیسي، زرګونه هېوادوالو تـه د کار زمینه برابرېږي او له بلـې خوا د ملي عوایدو د زیاتوالي او اقتصادي دوران د چټکتیا سـبب ګرځي. ښـاغلی برادر وایي: هڅه کوو، چې هېواد له وارداتي اقتصادي حالت څخه تولیدي او صادراتي محور ته انتقال کړو.
د ریاسـت الـوزراء اداري مرسـتیال مولوي عبدالسـلام حنفي په وینا چـې دغه کارخونه عصـري او معیـاري طرحه شـوې ده، چې د سـیمنټو د اړتیا یوه لویه برخه پـوره کوي. دی وایي: په دې پروژه کې له پرمختللو سیستمونو اسـتفاده کېږي، په کانونو او طبیعي سـرچینو متکي ده، داخلي او مسلکي وګړي به یې مخته وړي او سـیمنټ به یې نړیوال معیارونه ولري.
ښـاغلی حنفي وایي چې د سرتاسـري امنیت حاکمېدو سره د سیمنټو غوښتنه زیاته شوې ده او شته تولید کافي نه دی.
د کانونو او پټرولیم وزیر ملا هدایت الله بدري په وینا، چې د غوري او جبل‌السراج کارخونې څخه پرته، د ۷ نورو کارخونـو قراردادونه هم لري، چې ځیني یو شمېر ډېر مخته تللي دي او ژر به بشپړې شي. هغه وایي: که دغه ۹ فابریکې په ۲۴ ساعتونو کې ۳ زره ټنه سیمنټ هم تولید کړي، نو څه کم ۳۰ زره ټنه ته رسېږي. نوموړي زیاته کړه، چې افغانستان د ګادرو او ګول سیخ برخه کې ځان بسیاینې ته رسېدلی دی؛ خو خام مواد یې له بهـره راځي، چې هڅې روانې دي، خام مواد یې هم داخل کې تولید کړلی شي.
دغه د جبل‌السـراج دویمه فابریکه چې پروان ولایـت کې جوړېږي، د همـدې ولایت والي شیخ عزیزالرحمن منصور داد ورکړ، چې پروان کابل ته نږدې، پربمانه طبیعي سرچینې، ځوانه بشـري قوه لري او د لا زیاتو کارخونو جوړولو ظرفیت لري. نوموړي له مسؤلینو وغوښتل چې د دغه کارخونې بریښـنا ته زیاته پاملرنه وکړي، څو کارونه یې لا ښـه مخته لاړ شي. د اماراتي شـرکتونو لوی رئیس احمد جان بلال وویلې چې د دغه کارخونو په بشپړېدو سره به د هېواد پـه ابادۍ کې انقلاب راشـي. هغه وایي، چې اماراتي شرکتونه د کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته تر ټولو خوندي او باوري شـریکان دي او ګټه یې مستقیم ملي بودیجې ته ځي.
نومـوړې د یـادې کارخونې لـه انجینرانو او کارکوونکو وغوښـتل چې کارونـه یې په ټاکل وخت، پوره مسـلکي معیارونو او دقت سـره ترسره کړي. تاج محمد بهار

د صنعت او سوداګرۍ وزارت ...

چې صادروونکو په دې غونډه کې د صادراتو د اسانتیاوو په برابرولو کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت له هڅو مننه وکړه او روسیې، قزاقستان، بلاروس، ارمنستان او قرغیزستان ته د افغانستان د صادراتي توکو د ډولونـو او د صادراتو د بهیر په اړه یې معلومات وړاندې کړل. د خبرپاڼې له مخې، نورالدین عزیزي د صادروونکو د نظرونو له اورېدو وروسـته وویل، چـې د صنعت او سـوداګرۍ وزارت په کابل او د هېواد په زونونو کې د صادراتو د پروسـس مرکزونو پر جوړولو جدي کار کوي او د دغو مرکزونو په بشـپړېدو سره به د افغانستان د صادراتي توکو د صادرولو په بهیر کې سـوداګرو ته لا ډېرې اسانتیاوې او امکانات برابر شي. هغه د دغه وزارت مسؤلینو ته لارښوونه هم کړې، چې له صادروونکو سره دوامداره اړیکه وساتي او د اړتیا په صورت کې د هغوی سـتونزو ته په لنـډ ممکن وخت کې رسېدنه وکړي.
د صنعت او سـوداګرۍ وزارت زیاته کړې چې د سـوداګرۍ د اسـانتیا او د ګمرکـي خنډونو کمولو په موخه، د اوراسـیا اقتصادي اتحادیې چې روسیه، قزاقسـتان، بلاروس، ارمنستان او قرغیزستان یې غړي دي، د افغانستان صادراتي توکو ته ترجیحي تعرفې ورکړې دي.

له ترکمنستان سره اقتصادي ...

د لیدنـې په پیل کـې د ټولګټـو وزارت وزیر عوضوف ته د ښـه راغلاسـت ترڅنګ وویل ، چې افغانسـتان او ترکمنسـتان یو له بل سره لرغونې سـوداګریزې او اقتصادي اړیکې لري او د یاد هېـواد له دوامـداره همکاریو یې مننه وکړه. یاد وزارت لیکلي، چې په دې ناسـته کې د اوسپنې پټلۍ برخه کې د تر کار لاندې پروژو، چې د اقینې-اندخوی د ۱۰ کیلومتره اوسـپنې پټلۍ جوړول، د تورغونـډۍ بندر پراختیا او د نوو تأسیساتو جوړول پکې شامل دي، د کاري پرمختګ، د چارو د لا ښه‌والي او همدارنګه د دوارو هېوادونو ترمنځ د انتقالاتو د زیاتوالي په تړاو هم هراړخیز بحثونه وشول. د ټولګټو وزارت لیکلـي، چې د لیدنې په پای کـې دواړو لورو د اقتصـادي او سـوداګریزو اړیکو د لا پراختیا ترڅنګ، د ټرانسپورتي او زېربنایي پروژو برخه کې د دوه اړخیزې همکارۍ پر دوام او پیاوړتیا ټینګار وکړ.

د هېواد لرو پرتو سیمو ته ...

هغـه زیاته کړې چې اوس د هېـواد ډېره برخه خلک له مخابراتي خدماتو ګټه اخلي او اړتیا ده چې د دغو خدماتـو د لا پراختیا او خلکو ته د غوره اسانتیاوو د برابرولو لپاره نور عملي ګامونه هم واخیستل شي.
پـه خبرپاڼه کې د مخابراتو وزیر له قوله راغلي: «د اسـلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د مخابراتي خدماتو تعرفې دوه ځله راکمې شوې دي. که په راتلونکي کې هم د بازار او شرایطو له مخې د تعرفو د لا کمولو زمینه برابره شي، دا کار به ترسره شـي.» فضلي همداراز ویلي ، چې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د خلکو د اړتیاوو پر بنسټ د مخابراتو بازار په دقیقه توګه وارزول شو او په پایله کې تعرفې راکمې شوې؛ خو دا ځل ځینو شـرکتونو په خپل‌سـرې توګه اقـدام کړی و چې وزارت یې اجـازه ورنه کړه. الکوزي لیکلي، د مخابراتي شرکتونو استازو د مخابراتو وزارت له همکارۍ مننه کړې او ژمنه یې کړې چې خلکو ته د غوره خدماتو وړاندې کولو لپاره به پر خپلو ژمنو ولاړ پاتې شي.
د هغه په وینا، د یادو شرکتونو استازو د خدماتو د کیفیت د ښه‌والي او د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د شـبکو د پوښـښ د پراختیا پـه موخه د مخابراتي بنسـټیزو تأسیسـاتو پر پیاوړتیا هم ټینګار کړی دی.

لغمان کې د استاد ...

مرکز له لوري ترسره شـوې دي. په دې غونډه کې د دبسـتان فرهنګي مرکز مشر ډاکټر لطف الله خیرخوا، د لغمـان د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي عبدالنور رسـولي، د پښتو ادب اسـتاد فضل ولي ناکار، د لغمـان پوهنتون د علمي چارو مرستیال وقایت الله وقار، استادانو، فرهنګیانو، شـاعرانو، لیکوالانو، ژورنالیستانو او ګڼ شـمېر نورو ګډون کـړی و. د لغمان د اطلاعاتـو او فرهنګ رئیس مولـوي عبدالنور رسولي وویل، استاد ګل پاچا الفت د افغانستان د ادب، فرهنګ او فکر یو روښانه شخصیت و او د هغه د اثارو، یادګارونو او مقبرې ساتنه د هېواد د فرهنګي میراث د خوندي کولو مهمه برخه ده.
نوموړي د دبستان فرهنګي مرکز د هڅو ستاینه وکړه او زیاته یې کړه، د فرهنګي میراثونو سـاتنه او بیارغونه د ملي هویت د پیاوړتیا او د راتلونکو نسلونو د پوهاوي لپاره ځانګړې ارزښت لري.
په همدې حال کې د دبستان فرهنګي مرکز مشر ډاکټر لطف الله خیرخـوا وویل: د تاریخي او فرهنګي اثارو سـاتنه د راتلونکو نسلونو لپاره د ملي هویت د لېږد مهمه وسـیله ده او یاد مرکز به د فرهنګي میراثونو د ساتنې، د کتابونو ژباړې او تألیف، د علمي او فرهنګي غونډو د جوړولو او د ادیبانـو د ملاتړ په برخو کې خپلو هڅو ته دوام ورکړي.
د غونډې نورو ګډونوالو هم د اسـتاد ګل پاچا الفت د ادبي او فکري میراث د ارزښـت یادونه وکړه او د فرهنګي شخصیتونو داثارو د راټولولو، ساتنې او خپرولو پر اړتیا یې ټینګار وکړ.
د یادونـې وړ ده، چې اسـتاد ګل پاچا الفت د افغانسـتان د معاصر پښـتو ادب له مخکښو شـاعرانو، لیکوالانو او مفکرانو څخه و، چې د هېواد د ادبي او فرهنګي ودې لپاره یې ارزښتناک خدمتونه ترسـره کـړي دي. د نوموړي مقبره د لغمان ولایـت د عزیزخان کڅ په سـیمه کې موقعیت لري.

غزني کې ...

او هېـوادوال برخمن شـي او د هېـواد خپل تولیدات به په کور دننه او بهر ته معرفي کړي.»
د نندارتـون تنظیموونکي، احمد مجتبا احدي وایي: « زمـوږ نندارتون د غزنـي په ګډون، د کابل، هـرات، ننګرهار او نورو څېرمه ولایتونو صنعتکارانو پکې برخه اخیستې. د دغه نندارتون په ۶۰ غرفـو کې بېلابېل صنعتي توکي نندارې ته ایښـودل شوي دي.» د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرسـتیال د دغه نندارتون د پرانیستې په مراسمو کې ویلي چې اسلامي امارت د هېواد د صنعت او سـوداګرۍ سـکټور ته ځانګړې پاملرنه کړې او صنعتکارانـو او پانګوالو ته یې د اسـانتیاو برابرولو په موخـه ۱۶۰ زره جریبه ځمکه د کارخونو جوړولو لپاره ځانګړې کړې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت مالي او اداري مرستیال، شهاب‌الدین ثاقب و ویل: «زموږ او تاسې سـوداګري دوه میلیاردو ته رسېدلې او تر ټولو ښه خبره دا ده، چې اسلامي امارت صنعت او سـوداګرۍ ته ځانګړې پاملرنـه کړې ده. په ټول هېواد کـې ۱۶۰ زره جریبه ځمکه صنعت او سـوداګرۍ ته د کارخونـو جوړولو په موخه ځانګړې شـوې ده.» په ورته مهال، د صنعت او سـوداګرۍ وزارت د مسئولینو د معلوماتو له مخې، دا مهال افغانستان د ۲۳۰ قلمه صنعتي تولیداتو په برخه کې پر ځان بسیا شوی او لا هم هڅـې روانې دي چې د کورنیو تولیداتو د ودې لپاره اغېزمن ګامونه پورته شي.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: یما عرب
د ویبپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنایی بڼه
X
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه	
یو ډالر	۶۶.۵۰ اف
یو یورو	۷۵.۵۰ اف
یو پونډ	۸۵.۴۰ اف
یو درهم	۱۸.۱۱ اف
زر ریال	۰۳۶ اف
زر کلداري	۲۳۱ اف
زر کلداري	۷۴۶ اف

د هوا حالات	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزني	
۰٤:٤۹	۳۳°C	۳۷°C	٤۱°C	٤۲°C	٤٤°C	٤۳°C	۳۱°C	۰۷:۰۸

د کورنیو چارو وزیر د کډوالو د ملاتړ په برخه کې د ملګرو ملتونو د همکاریو ستاینه وکړه

د کورنیو چارو وزیر خلیفه سراج‌الدین حقاني د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له عالي کمېشنر برهم صالح او مل پلاوي سره لیدنه کړې. د کورنیو چارو وزارت وایي، په دې لیدنه کې خلیفه سراج‌الدین حقاني د کډوالو د لېږد، تنظیم او ملاتړ په برخه کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ له همکاریو او هڅو مننه کړې. بل لوري ته، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنر د کډوالو د ستونزو د هوارۍ، د راستنېدونکو افغانانو د ملاتړ او د بشري مرستو د دوام ډاډ ورکړی دی. نوموړي ټینګار کړی، چې د کډوالو د باثباته او باعزته راستنېدو، د هغوی د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو او په ټولنه کې د اغېزمن ادغام لپاره به له افغان لوري سره خپلې همکارۍ روانې وساتي. همدارنګه دواړو لورو د کډوالو د ستونزو د حل، د مرستو د لا همغږۍ او د ګډو همکاریو د پراختیا پر اهمیت ټینګار کړی، څو راستنېدونکو کورنیو ته غوره اسانتیاوې برابرې او د هغوی د ژوند د بېرته عادي کېدو بهیر چټک شي.

ناروې کمېټه په افغانستان کې تر ۲۰۳۰ زېږدیز کابل پورې کرنیزې او اقلیمي پروژې پلي کوي

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت مرستیال، مولوي صدراعظم عثماني افغانستان لپاره د ناروې کمېټې له مشر تاریا مګنوسون واتردال سره وکتل.

د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزارت وایي، په دې کتنه کې دواړو لوریو د کرنې په برخه کې د همکاریو پر پراختیا، د بزګرانو، د بڼوالو او مالدارانو د ملاتړ، د اقلیم بدلون پر وړاندې د مبارزې او د پراختیایي پروګرامونو د پلي کېدو په اړه خبرې کړې.

د ناروې کمېټې مسولینو په دې لیدنه کې وویل، چې دغه اداره به تر ۲۰۳۰ زېږدیز کال پورې په افغانستان کې د طبیعي سرچینو، د خوړو امنیت، بدیل معیشت او اقلیمي بدلونونو برخه کې پروژې پلي کړي.

د افغانستان او هند ترمنځ کرنیزې همکارۍ پراخېږي

د اسلامي امارت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزیرعطاءالله عمري، هند ته د خپل سفر پر مهال د هند د کرنې او بزګرانو د هوساینې له وزیر شیوراج سینګ چوهان او د هند د بهرنیو چارو او نساجۍ وزارت له مرستیال وزیر پبیترا مارګریتا سره وکتل او د کرنې، مالدارۍ او سوداګرۍ په برخو کې یې د دواړو هېوادونو د همکاریو د پراختیا په اړه خبرې وکړې. د یاد وزارت ویاند ویلي: «د کرنې وزیر د افغانستان د کرنې ...

۲مخ

شیخ شهاب‌الدین دلاور:

د زړه او رواني ناروغانو ملاتړ پراخو همکاریو ته اړتیا لري

د افغاني سرې میاشتې عمومي رئیس، شیخ شهاب الدین دلاور، په خپل کاري دفتر کې له یو شمېر ازبکستاني سوداګرو سره د زړه او رواني ناروغانو لپاره د اړتیا وړ درملو د برابرولو او روغتیایي همکاریو د پراختیا په اړه لیدنه کړې. په دې لیدنه کې ښاغلي دلاور د افغاني سرې میاشتې د بشري او روغتیایي خدمتونو په اړه معلومات وړاندې کړي او ویلي یې دي؛ دې اداري د سوري زړه ناروغانو د درملنې لپاره یو مجهز تخصصي روغتون جوړ کړی، چې په نږدې راتلونکي کې به خپل فعالیت پیل کړي او په کلني ډول به شاوخوا ۲۰۰۰ د سوري زړه ناروغانو ته د عملیاتو او درملنې خدمتونه وړاندې کړي. نوموړي زیاته کړې، چې افغاني سره میاشت دا مهال د هېواد په بېلابېلو مرکزونو کې نږدې ۱۵۰۰ رواني ...

۲مخ

میدان‌وردګو کې د منې ګل مشاعره جوړه شوه

د میدان‌وردګو په مرکز میدان‌ښار کې د منې ګل دودیزه مشاعره د شاعرانو، لیکوالانو، فرهنګپالو او د ادب د مینه‌والو په ګډون جوړه شوه. دغه مشاعره د میدان‌وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست له خوا، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ترنم او ترانو ریاست په همغږۍ، د میدان‌ښار ارونډ او ابراهیم‌خېلو په کلي کې جوړه شوې وه.

په دې ادبي غونډه کې د ولایتي مسؤلینو ترڅنګ د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت چارواکو، د هېواد له بېلابېلو سیمو راغلو شاعرانو، لیکوالانو او زرګونو فرهنګپالو ګډون کړی و. د میدان‌وردګو د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس مولوي حبیب‌الله مجاهد وویل: دا ډول فرهنګي پروګرامونه د ملي یووالي، ټولنیزې همغږۍ او د ادبي ارزښتونو د پیاوړتیا په برخه کې مهم رول لري. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت فرهنګي معین مولوي عتیق‌الله عزیزي هم وویل: مشاعرې یوازې ادبي غونډې نه دي، بلکې د فکري ودې او مثبتو پیغامونو د خپرولو اغېزمنه وسیله ده. په پای کې ګڼو شاعرانو خپل شعرونه وړاندې کړل چې د سولې، یووالي، ځوانانو او ټولنیزو موضوعاتو پیغامونه یې پکې ځای کړي وو. د منې ګل مشاعره د میدان‌وردګو له پخوانیو فرهنګي دودونو ده چې هر کال د منو د ګل کېدو په موسم کې جوړېږي او د هېواد له بېلابېلو سیمو شاعران او لیکوالان پکې ګډون کوي.

افغان او هندي چارواکو د سوداګریزو مسایلو په اړه خبرې کړې

د افغانستان او هند د بهرنیو چارو وزارتونو د مشترکې کمېټې څلورمه ناسته د پنجشنبې په ورځ په نوي ډیلي کې تر سره شوه. د بهرنیو چارو وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس حافظ ضیا احمد تکل وایي: د دې ناستې مشري د دې وزارت لومړي سیاسي رئیس شعیب بریالي او د افغانستان، پاکستان او ایران په چارو کې د هند د بهرنیو چارو وزارت استازي انند پرکاش کوله ...

۲مخ

پکتیکا کې یوه سوداګر په شخصي لګښت یو میګاوات برېښنا تولید کړې

د پکتیکا په مرکز ښرنه کې یوه سوداګر په شخصي لګښت یو مېګاوات برېښنا تولید کړې او په خبره یې، غواړي دا ظرفیت څلور مېګاواټو ته لوړ کړي، تر څو د دغه ښار د اوسېدونکو اړتیاوې پوره کړي. دا برېښنا د سولر پر مټ تولیدېږي او د لمر د وړانګو د نشتوالي پر مهال له ډیزلي ماشین هم کار اخیستل کېږي.

د برېښنا تولیدوونکي، دوست محمد وایي: «اوس مهال یې د برېښنا ظرفیت یو مېګاواټ دی، په چین کې مو ځینې وسایل پېرلي او په نږدې راتلونکي کې به یې ظرفیت دوه مېګاواټو ته لوړ کړو. موږ پلان لرو څلور مېګاواټه برېښنا تولید کړو، چې دا د ښرنې ټول ښار لپاره بسنه کوي.»

په ورته مهال، د پایپ جوړولو یوه کارخونه هم د لوړ لګښت له امله له کابل څخه د پکتیکا مرکز ښرنې ته لېږدول شوې ده. د پکتیکا اوسېدونکي او ځایي پانګوال د برېښنا تولید د صنعت د ودې او په ورځني ژوند کې د اسانتیاو د رامنځته کولو په برخه کې اغېزناک ګام بولي.

تر دې وړاندې په ښرنه کې د یوه کیلو واټ برېښنا بیه ۶۰ افغانۍ وه؛ خو د دې برېښنا په تولید سره ...

۲مخ

کرېکټ؛ افغان اېلېون ازبکستان ته د ۱۹۹ منډو په توپیر ماته ورکړه

په خوست کې د ازبکستان د کرېکټ له ملي لوبډلې سره شل‌اوریزه دوستانه لوبه د ۱۹۹ منډو په توپیر افغان اېلېون لوبډلې وګټله. دغه سیالي د جمعې په ورځ له غرمې مخکې د زرګونو نندارچیانو په حضور کې ترسره شوه. افغان اېلېون لومړی توپوهنه وکړه او په ټاکلو شلو اورونو کې یې د اوو لوبغاړو په سوځېدو ۳۲۳ منډې جوړې کړې. د ازبکستان ملي لوبډلې د ټاکلي هدف ترلاسه کولو په هڅه کې د اوو لوبغاړو په سوځېدو ۱۲۴ منډې وکړې او لوبه یې د ۱۹۹ منډو په توپیر وبایلله. د افغانستان د کورني کرېکټ مسؤل محمدنظیم جار عبدالرحیمزي رسنیو ته ویلي، د افغانستان کرېکټ بورډ او د ازبکستان د کرېکټ فدراسیون ترمنځ د همکاریو هوکړه‌لیک لاسلیک شوی، چې له مخې به یې افغانستان د خپلو تجربو او امکاناتو په کارولو د ازبکستان د کرېکټ له ودې سره مرسته کوي. ده زیاته کړه، د همدغه هوکړه‌لیک پر بنسټ د دواړو لوبډلو ترمنځ دوستانه سیالي ترسره شوه چې د کرېکټي اړیکو د پراختیا ...

۲مخ

راپور:

جرمني غواړي هغه افغانان هم وباسي چې جرمي مخینه نه لري

د جرمني «تاز» ورځپاڼې راپور ورکړی چې د دغه هېواد حکومت په پام کې لري، په نږدې راتلونکي کې د جرمي مخینې لرونکو افغانانو ترڅنګ هغه افغانان هم بېرته افغانستان ته ولېږي، چې نه جرمي مخینه لري او نه هم امنیتي ګواښ بلل کېږي. د هغه راپور له مخې، چې د جرمني د بېلابېلو ایالتونو د کډوالو چارو شوراګانو د معلوماتو پر بنسټ چمتو شوی، دا مهال لږ تر لږه پنځه افغان وګړي، چې نه د جرم په تړاو محکوم شوي او نه هم د امنیتي ادارو له لوري خطرناک کسان بلل شوي، د اېستلو په ځانګړو توقیف‌خونو کې ساتل کېږي.

د «تاز» د راپور له مخې، له دغو کسانو څلور یې د بایرن ایالت او یو بل یې د هِسن ایالت په توقیف‌خونو کې دي. همدارنګه، یو بل افغان وګړی چې د نیدرزاکسن ایالت په توقیف کې و، وروسته له هغه خوشې شو، چې څرګنده شوه د جرمني د کډوالۍ او پناه‌غوښتنې فدرالي ادارې (BAMF) د یوې اداري پرېکړې په ابلاغ کې تېروتنه کړې وه.

راپور کې راغلي، چې جرمني په ۲۰۲۱ کال کې د اسلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د څو کلونو لپاره افغانستان ته د افغان وګړو ...

۲مخ

بهرني لنډ خبرونه

د ایران پخوانی مذهبي مشر علي خامنه‌یي په مشهد کې خاورو ته وسپارل شو

ایراني رسنیو راپور ورکړی، چې د دغه هېواد مخکنی رهبر ایت‌الله علي خامنه‌یي او د کورنۍ څلور نور غړي یې په مشهد کې خاورو ته سپارل شوي دي. د ایسنا خبري اژانس د راپور له مخې، د علي خامنه‌یي جسد د د چنګاښ ۱۹مه د خپلې کورنۍ د څلورو غړو له جسدونو سره یوځای د مشهد ښار د امام رضا (ع) په زیارت کې خاورو ته وسپارل شو. راپورونه وایي، د علي خامنه‌یي د جنازې مراسم په تېره یوه اونۍ کې د تهران، قم، کربلا، نجف او مشهد په ښارونو کې ترسره شول. د راپورونو له مخې، مجتبی خامنه‌یي چې د خپل پلار له مړینې وروسته د ایران د نوي مشر په توګه معرفي شوی، د جنازې په هیڅ یوه مراسمو کې ګډون نه‌دی کړی؛ خو د علي خامنه‌یي ...

۲مخ

هسپانیه کې د ځنګل اورلګېدنې له امله ۱۱ کسان مړه شوي

د هسپانیې په سوېلي المریا ولایت کې د پراخې ځنګلي اورلګېدنې له امله لږ تر لږه ۱۱ کسان مړه شوي دي.

رویټرز خبري اژانس د اندلس سیمې د بېړنیو پېښو د مسؤل انتونیو سانز له قوله راپور ورکړی، چې شاوخوا ۱۵۰ اوروژونکي د اور د مهارولو په عملیاتو بوخت دي او هڅه کوي د اور د لا پراخېدو مخه ونیسي. د نوموړي په وینا، د اورلګېدنې د رامنځته کېدو اصلي لامل تر اوسه نه دی معلوم او د پېښې د څرنګوالي په اړه پلټنې روانې دي. ځایي چارواکو د اور له امله د اغېزمنو سیمو یو شمېر اوسېدونکي خوندي ځایونو ته لېږدولي او خلکو ته یې سپارښتنه کړې، چې د ژغورنې او بېړنیو خدماتو له لارښوونو سره سم عمل وکړي. چارواکي اندېښنه څرګندوي، چې د لوړې تودوخې، وچې هوا او تېزو بادونو له امله د اور د پراخېدو خطر لا هم شته او د اور وژنې ډلې هڅه کوي تر ټولو ژر وضعیت تر کنټرول لاندې راولي.

امریکا او ایران یو ځل بیا پر یو بل بریدونه کړي

د راپورونو له مخې، د امریکا پوځ د دویمې پرله‌پسې ورځې لپاره پر ایران بریدونه کړي او ایران هم په غبرګون کې په کوېټ او بحرین کې د امریکا پوځي اډې په نښه کړې دي.

رویټرز د امریکا د مرکزي قوماندانۍ له قوله راپور ورکړی چې دغه بریدونه د هرمز تنګي د پرانیستي پاتې کېدو او پر دې ستراتیژیکه سمندري لاره د بېړیو د تګ‌راتګ پر وړاندې د ګواښ رامنځته کولو لپاره د ایران د وړتیا کمولو په موخه ترسره شوي دي.

د راپور له مخې، ایران د امریکا د بریدونو په ځواب کې د دویمې پرله‌پسې ورځې لپاره پر کویټ او بحرین بریدونه کړي دي. د کویټ دفاع وزارت ویلي چې د دغه هېواد ځواکونو توغندي او بې‌پیلوټه الوتکې تعقیب کړې دي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، دغه بریدونه هرمز تنګي کې پر درېیو سوداګریزو بېړیو د برید غبرګون کې ...

۲مخ